AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۳/۰۵/۱۴

# هغه خرافي افسانې چې دين فسخ و مسخ کوي

هرڅه خپل آفات لري. د دينونو آفات هم زيات دي، خو يو آفت يې دا دی، چې د خرافاتو په ورګډېدو له عقلانيت څخه ورو ورو لرې کيږي.

د خرافاتو يوه لويه برخه د هغو افسانو او روايتونو راپنځېدل دي، چې د زمانو په اوږدو کې د ديني شخصيتونو يا هغو سياسي واکمنو په ګټه راپنځول کيږي چې په لوی لاس غواړي ځان ته ديني مشروعيت جعل کړي.

د بې مدعا عارفانو او صوفيانو په اړه د ځينو کراماتو له روايتونو ورهاخوا ديني تاريخ له هغو جعلي – خرافي افسانو ډک دی، چې واکمنو او يا هم زورورو شيخانو و روحانيونو د واکګټنې و واکساتنې په پار راپنځولې دي.

د افراطي پلويانو او غواړه‌مارو مداحانو افسانو کار بيخي خراب کړی دی.

په افغانستان کې لسګونه داسې ځايونه شته چې خلک يې د حضرت علي (رض) قدمځای ګڼي، هلته و دلته يې ذوالفقار غرونه نيم کړي دي او يو ځای و بل ځای يې د دلدل د پوندو نښې په ډبرو کې پاتې دي. د تاشقورغان تنګی د حضرت علي په توره شکېدلی دی. بند امير يې په مبارکو لاسونو جوړ شوی ، ځکه خو يې بند «امير» بولي.

خو تاريخ راته وايي، چې هغه حضرت هيڅکله افغانستان ته راغلی نه دی.

غزنوي سلطان محمود په ځينو هغو روايتونو کې، چې د ده په زمانه کې درباري مداحانو يا تر ده روسته د ده مخلصانو راپنځولي دي، د يوه ولي‌الله او اسماني پاچا تبرک ګڼلی دی. حال دا، چې د سلطان محمود او غزنويانو په اړه تر ټولو دقيق، جامع او هممهالی کتاب د ابوالفضل بيهقي تاريخ دی. په دې کتاب کې د سلطان محمود او نورو غزنوي پاچايانو رېښتينې څېره او د عيش و نوش و خونړيو کړنو پريمانه روايات ليدلای شو.

هغه خوبونه، چې د زورورو واکمنو يا شيخانو په اړه ليدل کيږي د داسې خرافي افسانو لويه برخه جوړوي.

کله مو له ځانه پوښتنه کړې، چې د زر و زور له خاوندانو پرته د بېوزله، بې واکه خو شريفو او متقي شخصيتونو په اړه ولې څوک خوب نه‌ويني؟

هيڅا کوم ناسياسي و عادي وګړی له پيغامبرانو سره پر سپين آس سپور په خوب ونه‌ليد. د هيڅ غريب او بېوسه خو پاک روحاني د خبرو پر مهال کوم کرامات راڅرګند نه‌شول او پيغامبر هيڅا ته په خوب کې د هېڅ غريب سړي د درناوي او ستاينې لپاره څه ونه‌ويل.

له دې ټولو ښکاري، چې خرافي افسانې او روايتونه سياسي دي، مصنوعي دي او د واکمنو په سپارښت پنځول‌کيږي.

ځواکمن د خپل مشروعيت لپاره د افسانو پنځوونکيو ته غوړه مړۍ ورکوي او د ساده خلکو په زړونو او ذهنونو کې ځانونه ته ځای مومي.

هرڅومره چې ټولنه هوښيارېږي او خلک عقلاني کيږي، هرڅومره چې پوهه، تجربه، ساينس او تکنولوژي پرمخ ځي، خلک روښانه کيږي نو بيا دغه خرافات او افسانې نه مني. هوښيار ملتونه د زورورو په سپارښت پنځول شوې افسانې پېژني او ورپورې خاندي، ورو ورو دا فکر عاميږي، چې ښايي ټول ديني روايات به همدغسې پنځول شوي وي او حقيقت به نه لري.

په ټول تاريخ کې له پوهې، فيلوسوفي او ساينسي زدکړو سره د مستبدو ديني واکمنيو د ډار او دوښمنۍ يو اصلي لامل همدا دی، چې هوښيار ولسونه خرافاتي او مصنوعي افسانې نه مني.

ځکه خو دا پايله تر لاسه کيږي، چې افسانې او د کراماتو جعلي روايات ديني اصالت، فيلوسوفي او اخلاقي – روحاني بنسټ لړزولی او ماتولای او دينونه له فسخ و مسخ سره مخامخولای شي.

هغوی، چې غواړي دينونه يې پر خپل بنسټ او وجودي منطق ولاړ پاتې شي، ښايي له ديني متونو سره د جعلي او خرافي افسانو د ګډون او ناعقلاني کولو مخه ونيسي.

پياوړي فکري مکتبونه هغه دي، چې خپل افات پېژني او د ځانژغورنې لپاره هره ورځ ځان د زمانې او بشريت له اړتياو او غوښتنو سره هممهاله نوی کوي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ